## الدرس الأول
## الطهارة والنجاسة

## اولنئ درس
## پاكوالے او پليتي

نجاست(پليتي، ګندګی) :هر هغه څيز ته وائي ، چي د هغی نه ځان بچ ساتل او چي په کوم ځائی ولګی دهغی وينځل په مسلمان باندی لازم وی .
پليتي، كه كپـړی او كه بدن ته ورسيږی د هغی وينځل واجب وی ، ترڅو پوری چی ظاهری اثر ئي ختم شوی نوی ، او په نظرنه راځی، که چرته په زائله کيدلو کښي مشقت وی ، لکه د حيض وينه ،که د وينځلو نه پس ئی هم اثر باقی وی ، څه حرج پکښي نشته ،که پليتی ظاهرًا په نظر نه راځی بيا يو ځل وينځل هم کافی کيږی.
که چرته زمکه ګنده شی ، دهغی پاکوالی په اُوبو اړولو سره ، او يا د زمکی اُوچيدلو سره راځی ، پدی شرط چی ګندګی مائع (بهيدونکی) شکل کښي وی ، (لکه بول) او که جُوثه (وجود) لری نو بيا د هغی زائله کول لازمی دی.
پاكوالی حاصلولو او ګندګی لری کولو دپاره اُوبه استعماليږی ، اُوبه كه د باران وی او كه د درياب وغيره وي ددی مقصد دپاره استعماليږی ، اوهغه اُوبه هم استعمالول جائز دی چی پاک څيز ورسره ګډوډ شوی وی ، خو چی اُوبه په خپل شكل باقی وی ، که چرته دپاک څيز د ګډون سره د اوبو خپل شکل باقی پاتی شوی نوی ، د هغی استعمال دپاکوالی دپاره جائزندی ، اوکه داُوبو سره ګنده څيز ګډ شي ، پداسي شان سره چه د اُوبو خوند ، رنګ او بوئی بدل کړی ، ددي استعمال د پاکوالی دپاره جائز ندي ، او که خوند ، رنګ او بوئی په خپل حال باقی وی ، د هغي استعمال جائزدي ، او دارنګه جوټه اُوبه هم استعمالولي شی ، سيواء دسپي او د خنزير د جوټی نه ځکه هغه ناپاکه (نجسه) ده.